


**بسم الله الرحمن الرحیم**

**پر سوریه د امریکا د وروستي هوايي برید حقیقت!**

**(ژباړه)**

پوښتنه:

د ۲۰۱۸ز د مارچ په ۱۱مه د پوتین، روحاني او اردوغان د ګډې ناستې په اړه موږ یوه اعلامیه خپره کړه او په دې اعلامیه کې ویل شوي وو چې دا درې هېوادونه په سوریه کې د امریکا پلان پلی کوي او د امریکا تر نفوذ لاندې په دې هېواد کې سېکولر رژیم غواړي. نو پر دې بنسټ پوتین د امریکا په همغږۍ او د امریکا لپاره خدمت کوي. په سوریه باندې د امریکا د برید تر شا څه دي سره له دې چې په طرطوس او حمیم کې د روسیې ځواکونه هم شته؟ دا څنګه کېدی شي چې د امریکا، انګلیس او فرانسې ترمنځ ګډه ایتلاف شته وي، په داسې حال کې چې ګټې یې مختلفې دي؟ هیله ده دا پوښتنې ځواب کړئ. جزاک الله الخیر همدارنګه دا چې پوښتنه مې له وخته مخکې وکړه ښښنه غواړم.

**ځواب:**

1- لومړی غواړم د پوښتنې یوه برخه تصحیح کړم. امریکا په سوریه کې د روسیې اډې نه دي ویشتلې. دا خبره د روسیې د دفاع وزارت په بیانیه کې راغلې ده او ویلي یې دي چې بریدونه د اډې شاوخوا شوي دي او روسیه په داسې حال کې غلې ده چې ځان د سوریې او د سوریې د خلکو مالک او اختیار لرونکې بولي.

2- د امریکا د سوریې د کیمیاوي وسلو د له منځه وړلو په نسبت غواړي د روسیې غوړونه خلاص کړي. نن سهار په کابو لسو مرکزونو بریدونه وشول او په دې اړه پوځي کارپوهان وایي چې خورا لږ بریدونه په کیمیاوي او تحقیقاتي مرکزونو باندې وو او زیات شمېر یې په پوځي مرکزونو.

3- دا چې امریکا ولې روسیه د دومره خدمتونو په کولو سره سره بیا هم تنبیه کړله؟ باید ووایو چې روسیه په دې وروستیو کې یو څه مغروره شوې وه او دې هېواد په سوریه کې پوځي فعالیتونه په داسې یوه وضعیت کې کول چې ګواکې د سوریې ټولې چارې د دوی په واک او کنټرول کې دي او کړنې یې تر هغې دایرې وتلې وې چې امریکا ورته ترسیم کړې وه چې د امریکا د رول تحکیمول دي. له همدې امله امریکا د روسیې پوځي اډو ته څېرمه بریدونه وکړل، څو یاد هېواد بېرته په خپل ځای کېنوي او که روسیه یو ځل بیا تر خپل لمڅي پښې وباسي، نو امریکا یې بیا پر وړاندې درېږي او بیا یې توهینوي، لکه څنګه چې په واشنګټن کې د روسیې سفیر وویل: (د امریکا برید په اصل کې د پوتین توهین و، نه د روسیې.)

4- همدارنګه دا چې بریدونه ولې د روسیې د توهین لپاره وو، نه د سوریې پر پوځي مرکزونو؟ ځکه چې څو ورځې مخکې ټرامپ غېپدلی و او په دې سره یې سوریې ته څرګند پیغام ورکړ چې باید پوځي مرکزونه تش کړي. د همدې امله تر ۱۰۰ زیاتو توغندیو یوازې مادي زیانونه درلودل. مګر دا چې رژیم له دې ډول توهینونو سره عادت کړی دی او لاسپوڅي له دې سره عادت شوي وي چې کله یې باداران وغواړي، نو دوی تر برید لاندې راولي. په تېرو وختونو کې دا ډول زیاتې پېښې د دې خبرې ښه ثبوت دی او امریکا د خان شیخون تر پېښې وروسته همداسې کار وکړ. له همدې امله دا ډول کارونه د لاسپوڅو لپاره نوې خبره نه ده، بلکې دوی په دې برخه کې پوره پوهه تر لاسه کړې ده. تر ټولو بده خبره دا ده چې دوی تر ډېولو وروسته جشن نیسي. هغه څه چې د پام وړ دي، هغه دا دي چې دې برید په روسیه خورا زیات اثر کړی او حتا ځینې جنګي بېړۍ او پوځي مرکزونه یې د امریکا د بریدونو له وېرې تش کړي دي. که څه هم بریدونه د روسیې اډو ته څېرمو وشول، مګر روسیې د دې هوایي بریدونو د خنثا کولو لپاره هېڅ هم ونه کړل.

5- یوه روسي چارواکي په خپله یوه بیانیه کې نن سهار وویل چې روسیه به د امنیت شورا ته خپل شکایت واستوي، چې همداسې یې وکړل او د امنیت شورا پرېکړه وکړه چې په دې اړه به د ګرینوچ په وخت په ۱۵بجو غونډه وکړي. د روسیې کار داسې و لکه یو کمزوری هېواد چې تر برید لاندې راځي او بیا د امنیت شورا ته شکایت کوي. په اصل کې په روسیه برید شوی دی که څه د دوی مرکزونه نه دي په نښه شوي. دا بریدونه ځکه وشول چې روسیه بیخي په هوا ګرځېدله او د شوروي اتحاد د وخت د واک او ځواک خوبونه یې لیدل. نو دې بریدونو روسیه بېرته کوچنۍ کړله او بېرته یې په خپل ځای کېنوله او روسیې یې پر وړاندې هېڅ هم ونه کړل او نه یې د کړلو جرئت درلود. پر دې بنسټ؛ د روسیې سیاسي حماقت څرګندېږي چې دوی په سوریه کې پرلپسې هڅې کوي، مګر بیا هم د دې هېواد اختیار نه شي تر لاسه کولی او اصلي تصمیم د امریکا په لاس کې دی. همدارنګه روسیې د مصر له موضوع درس وانه خیست، چې سادات د قلم په یوه کرښه دوی له مصر وایستل. ځکه چې په مصر کې اصلي واک له امریکا سره و، مګر روسان په دې نه پوهېدل او دوی ورته کار نن په سوریه کې د خپلو وحشي بریدونو په سرته رسولو سره د نورو لپاره او د اسلام سره د کرکې لپاره کوي. دغه وحشتونه

چې نن يې امريکا په سوريه کې کوي، تر شا يې امريکا ده او دا به د مسلمانانو له ياده کله هم ونه وځي او يوه ورځ به دا پاڼه واوړي او موږ د دې ورځې د راتګ لپاره دعاء کوو.

6- همدارنګه د امريکا، انګليس او فرانسې د ايتلاف په اړه بايد وويل شي چې دا ايتلاف هغه ايتلاف ته نه دی ورته چې څو هېوادونه يې د يوه بل هېواد پر وړاندې ترې، بلکې دا د امريکا په اجازه يوه ګډون و. لکه څنګه يې چې په عراق او سوريه کې وکړل؛ دوی هلته هم د تروريزم په پلمه په نړيوال ايتلاف کې فرانسې او انګلستان ته اجازه ورکړه چې ګډون پکې وکړي او موږ په دې اړه په تېرو اعلاميو کې په جزياتو بحث کړی دی.

7- هغه څه چې موږ ته درد راکوي دا دي چې د نړۍ لوی قدرتونه زموږ په اسلامي خاورو کې مداخله کوي او ځانونه د دې خاورو اصلي واکمنان او اختيار لرونکی بولي. په داسې کې چې موږ هغه دولت نه لرو چې موږ سره متحد کړي او زموږ عزت بېرته راولي. امريکا به په ياد لري چې يو وخت يې چې بېړۍ له مديترانې تېرېدلې په الجزاير کې يې د عثماني دولت والي ته جزيه ورکوله. همدارنګه فرانسه به هم په ياد لري چې يو وخت يې پاچا بندي شوی و د عثماني خليفه سليمان قانوني يې مرسته غوښتله او انګليس به هم په ياد لري چې کله يې په تياتر کې د يوې برنامې له خپرولو له عثماني سفير څخه بښنه غوښتنې وه.

دا څه وخت وشول؟ هغه وخت چې عثماني خلافت خورا کمزوری شوی و او مجبور و چې د دوی بښنه غوښتل ومني، که نه غابښ ماتوونکی ځواب يې ورکولی شوی. نو هر مسلمان بايد له حزب التحرير سره د نبوت پر منهج باندې د راشده خلافت د بيا راتګ لپاره هڅه وکړي. که داسې وشي، نو اسلام او مسلمانان به بريالی او کافران به ماتې خوري.

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيم﴾**

[روم: 4-5]

*ژباړه: په دې ورځ به مسلمانان د الله د نصرت له امله سخت خوشاله وي او الله چې چاته وغواړي نصرت ورکوي او همدی عزيز او مهربانه دی.*

*۱۴۳۹ هـ. ق، د رجب ۲۷ مه*

*۲۰۱۸ ز، د اپرېل ۱۴ مه*